

# دنوراني قاعدي تجويدي نوټ

سيد احمد (ذهين)

Ketabton.com

دنوراني قاعدي تجويدي نوټ

سيد احمد (ذهين)

1/10/

تجويدي نوټ

Helman

S-A-Z

1/10/13

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنوراني قاعدې تجويدي نوټ

ترتيب کوونکی اوليکوونکی:سيداحمد(ذهين)
کال: ۲۰۲۱ \ ۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکتاب پيژندنه

| | | |
|---|---|---|
| دکتاب نوم | : | دنوراني قاعدې تجويدي نوټ |
| مرتب | : | سيداحمد(ذهين) |
| کمپوز | : | سيداحمد(ذهين) |
| تصحيح | : | سيداحمد(ذهين) |
| موبایل شمیرې | : | 0784459425 / 0731317240 |
| ایمیل ادرس | : | shaistasayedahmadzaheen@gmail.com |
| فېسبوک | : | sayed ahmad zaheen |

(ټول حقوق دليکوال سره محفوظ دي)

(ډالۍ دې وي ټولو هېوادوالوته)

(ددی کتاب هر ډول چاپ، کاپی او برقی نشر بغير د مؤلف د اجازی څخه منع دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library


# فهرست



| عنوان | دصفحې شمېره |
|---|---|
| تجويد | 5 |
| اوله،اودوهمه کليمه | 5 |
| دحروفو کشول | 5 |
| حروفې مقطعات | 5 |
| حرکت،تنوين | 5 |
| وقف | 6 |
| تاح مده وره | 6 |
| ولاړ حرکات | 6 |
| مداصلي يا حروف مده | 6 |
| مدلين يا حروف لين | 6 |
| مدواجب متصل،مدجائزمنفصل | 6 |
| الف،همزه | 6\7 |
| ساکن | 7 |
| قلقله | 7 |
| درا قاعدې | 7 |
| ساکن،غنه | 7 |
| دنون ساکن اوتنوين قاعدې | 7\8 |
| دميم ساکن قاعدې | 8 |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تجوید

تجوید:په لغت کې ښه کارکولو ته وايي.اوپه اصطلاح کې موږ ته دحروفو حق راښيي.

دتجویددعلم موضوع:حروف هجاء یا الفاظي قرآني دالفباء ۲۹ توري دي.

دتجوید دعلم غرض:دقرانکریم دتلاوت کولو په وخت کې خپله ژبه دخطا څخه ساتل دي.

دتجوید دعلم ارکان:څلور دي (صفتونه،مخرجونه، ترکیبي قاعدې،اوپه خپله ژبه سره مهنت کول).

دتجویددعلم حکم:فرض کفايي دی اوعمل وربانديې فرض عين دی.

دتجوید دعلم فايده:په دنيا او آخرت کې دالله(ج) رضا ده.

## اوله،اودوهمه کلیمه

اوله کليمه طيبه:( لاالٰهَ اِلاالله مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ).

ترجمه:نسته لایق دعبادت بغیرداللهِ(ج)څخه حضرت محمد(ص)دالله(ج)رسول دی

دوهمه کلیمه شهادت:( اَشهَدُ اَنَ لا اله الا اللهُ وَاَشهَدُ اَنَ مُحَمَّداًعَبدُه و رَسُولُه).

ترجمه:زه شاهدي اداکوم ددې خبرې چې نسته لايق دعبادت بغير دالله(ج)څخه او زه شاهدي اداکوم چې په تحقيق سره حضرت محمد(ص)چې دی بنده دالله(ج)او رسول دالله(ج)دی.

## دحروفو کشول

یادونه:هر حرف چې له درو تورو څخه جوړوي ددرو الف اندازه کشيږي درې الفه شيږ حرکته کيږي.

یادونه:هرحرف چې له دوو تورو څخه جوړوي ديو الف اندازه کشيږي يو الف دوه حرکته کيږي.ددوه حرکته اندازه چې خلاصې گوتې بندې کړي اويابندې گوتې خلاصې کړي.

## حروفي مقطعات

حروفو مقطعات:هغه حروفو ته ويل کيږي چې جلا جلا يعنې قطع قطع ويل کيږي.

یادونه:دحروفو مقطعاتو په معنا يوازې او يوازې الله (ج) او رسول(ص) پوهيږي اوحروف مقطعات دڅورلسو صورتونو په سرکې راغلي دي.

## حرکت،تنوين

حرکت:يوزور،يوزېر،يوپېښ ته وايي.

تنوين:دوه زوره،دوه زېره،دوه پېښ ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## وقف

یادونه:په دوه زوره چې وقف وشي په الف بدلیږي.

یادونه:په دوه زېره،دوه پېښ،یوزور،یوزېر،اویوپېښ چې وقف وشي ساکن کیږي.

ساکن:چې یو توری وړغندی ولري.

## تاح مده وره

تاح مده وره:هغه کوچنی ها ته ویل کیږي چې په سر دوه ټکي ولري.

یادونه:په تاح مده وره چې وقف وشي په ها بدلیږي.

## ولاړ حرکات

ولاړ حرکات:ولاړزور،ولاړزېر،چپه پېښ ته وایي.

یادونه:ولاړ حرکات دیو الف اندازه کشیږي یامد باندې کیږي.

یادونه:په ولاړو حرکاتو چې وقف وشي په ولاړو حرکاتو بدلیږي.

## مد اصلي یاحروف مده

مد اصلي یا حروف مده:درې توري دي(واو،الف،یا).

واو:چې ساکن وي مخکې حرکت یې پېښ وي.(بُوْا).

الف:چې ساکن وي مخکې حرکت یې زور وي.(بَا).

یا:چې ساکن وي مخکې حرکت یې زېر وي.(بِیْ).

## مدلین یاحروف لین

حروف لین یا مدلین:دوه توري دي(واو،یا).

واو:چې ساکن وي مخکې حرکت یې زور وي.(دَوْا).

یا:چې ساکن وي مخکې حرکت یې زور وي.(دَیْ).

یادونه:مدلین ځکه ورته وایی چې په نرمۍ سره ویل کیږي.

## مدواجب متصل،مدجائزمنفصل

مدواجب متصل:مدواجب متصل ددرو الف اندازه کشیږي،علامه یې( آ ).

مدجائزمنفصل:مدجائزمنفصل دیوالف،دوه الف،درې الف په اندازه کشیږي.

خو ښه خبره داده چې ددروالف په اندازه یې کش کړو،علامه یې( آ ).

## الف،همزه

الف:هغه لکنۍ ته وایی چې هیڅ حرکت او جېټکه ونه لري( ا ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


همزه:هغه لکنې ته وايی چې حرکت او جټکه ولري(اَ).

## ساکن

ساکن:چې يو توری وړغندی ولری.دوړغندي وظيفه مخکې توری دځان سره جنګوي اويوځل ويل کيږي.

## قلقله

قلقله:ساکنو حروفو ته حرکت ورکولو يا جټکې ته وايی.

دقلقلې حروف:شپږ دي.(ق،ط،ب،ج،د).

يادونه:هره کله چې دغه شپږ حروف(ق،ط،ب،ج،د)ساکن وي نو هلته قلقله کيږي.

جټکه:لکه (اَقْ،اِقْ،اُقْ) (اَطْ،اِطْ،اُطْ).

## درا قاعدې

دراقاعدې:درې داني دي.

١قاعده:که چيرې را زور،او پېښ ولري نو راډکه ويل کيږي.اوکه زېرولري نوتشه ويل کيږي.

٢قاعده:که چيرې را ساکنه وي نو بيا يې مخکې توري ته يې ګورو، که چيرې زور،او پېښ ولري نو راډکه ويل کيږي.اوکه زېرولري نوتشه ويل کيږي.

٣قاعده:که چيرې را اودهغه څخه مخکې توری ساکن وي نوبيا دريم توري ته ګورو، که چيرې زور،او پېښ ولري نو راډکه ويل کيږي.اوکه زېرولري نوتشه ويل کيږي.

## مشدد،غنه

مشدد:چې يو توری شد ولري.شد ددرې غاشو په رقم دی.اود شد وظيفه مخکې توری دځان سره ټينګ جنګوي اودوهم ځل بيا ويل کيږي.

غنه:هر کله چې ميم او نون شد ولري هلته غنه کيږي.

## دنون ساکن اوتنوين قاعدې

دنون ساکن او تنوين قاعدې:څلور دي. (اظهار،ادغام،اخفاء،اقلاب).

اظهار:په لغت کې ښکاره کولو ته وايی،اوپه اصطلاح کې هرحرف دخپل مخرج څخه ايستل بې له غنې ته اظهار وايی.

يادونه:داظهار ۶ حروف دي(ء،ه،ع،ح،غ،خ).

يادونه:هرکله چې دغه شپږ (ء،ه،ع،ح،غ،خ)حروف دنون ساکن اوتنوين وروسته راشي نو هلته اظهار کيږي.(وَنْحَرْ،اَنْعَمْتَ،رَسُوْلٍ اَمِيْنَ).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ادغام:په لغت کې کې داخلولو ته وايی.اوپه اصطلاح کې يوځايوالی دی،دحرف ساکن دحرف متحرک سره داسې يوځايوالی چې متحرک حرف مشدد وګرځي.او ژبه يووار ورباندې پورته شي.**

**يادونه:ادغام په دوه ډوله دی.**

**١ :سره دغني:هرکله چې دغه څلور(ی،م،ن،و)حروف دنون ساکن اوتنوين وروسته راشي هلته ادغام سره دغني کيږي.(مِنْ رَّبِّهِمْ).**

**٢ :بې‌له غني:هرکله چې دغه دوه(ل،ر )حروف دنون ساکن اوتنوين وروسته راشي هلته ادغام بې‌له غني کيږي.(مَنْ يَّقُوْلُ).**

**اقلاب:په لغت کې اړولو ته وايی.اوپه اصطلاح کې يوحرف بدلول په بل حرف باندې سره دغني.**

**يادونه:داقلاب يوحرف(ب)دی.**

**يادونه:هرکله چې دنون ساکن اوتنوين وروسته (ب) راشي نو هلته اقلاب کيږي.(مِنْ ۢبَعْدِ).**

**اخفاء:په لغت کې پټولو ته وايی.اوپه اصطلاح کې داظهار او ادغام مينځ کې يو حالت دي.**

**يادونه:داخفاء ١٥ حروف دی. (ت،ث،ج،د،ذ،ز،س،ش،ص،ض،ط،ظ،ف،ق،ک).**

**يادونه:اخفاء هرکله چې دنون ساکن اوتنوين وروسته دغه(ت،ث،ج،د،ذ،ز،س، ش،ص، ض،ط،ظ،ف،ق،ک)حروف راشي هلته اخفاء کيږي.**

## دميم ساکن قاعدې

**دميم ساکن قاعدې:درې دي.( ادغام متماثلين، اخفاء شفوي، اظهار شفوي).**

**ادغام متماثلين:هرکله چې دميم ساکن وروسته ميم راشي.هلته ادغام متماثلين کيږي.(لَهُمْ مَّثَلاَ)**

**اخفاء شفوي:هرکله چې دميم ساکن وروسته با راشي هلته اخفاء شفوي کيږي.(تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ).**

**اظهار شفوي:هر کله چې دميم ساکن وروسته (واو،فا) راشي هلته اظهارشفوي يااشداظهارکيږي. (لَکُمْ دِيْنُکُمْ وَلِیَ دِيْنَ).**

دنوراني قاعدې دتجويدي نوټ پاى

ومن الله التوفيق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**